دپخوانی شهداوالستاسلی تجسیم
نابرومکی بشپیاپرصیرلوی الپیانلو شاکړی باشد
(٤) صفحه
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
نمبرمسلسل (١١٥٥) سال نزدهم شماره (٥٢) چارشنبه (٢٣) جوزاي ١٣٧٥ هـ .ش (٢٦) محرم الحرم (١٤١٧) هـ .ق (١٢جون ١٩٩٦)م

استاد خلیلی دبیرکل حزب وحدت اسلامی :

طالبان به تشکیل کمسیون جهت بررسی قضیه قتل استاد مزاری توافق نمودند

اساس حکومت توسعه یابد وهمه گروه ها درآن نمایندگی داشته باشند

باطرح تقسیم کشور همیشه مخالف بوده ایم

حزب وحدت اسلامی وطالبان توافق نموده بودند بخاطر تحقیق پیرامون قتل عبدالعلي مزاري کمیسیوني تشکیل گردد، اما تاکنون اقدامات عملي درین زمینه صورت نگرفته است .

استاد «خلیلي» رهبر حزب وحدت اسلامي درگفتگو با روزنامه الحیات درپاسخ به سوالي درمورد روابط این حزب باطالبان یاد آورشد: «اخیراً گروه طالبان توافق نمودند کمیسیوني تشکیل گردد وراجع به قتل عبدالعلي مزاري تحقیق نماید وقاتلان راشناسائي و به دادگاه اسلامي سپرده شوند .» وي

ص(٤)

الهی لارښوونی

اوای محمده ! دا د پیغمبرانو کیسی چی موږیی تاته اوروو دا هغه شیان دی چی د هغو په وسیله ستا زړه واده کوو. په هغوکی تاته د حقیقت علم په لاس درغی او ایمان راوړونکوته نصیحت او ویښتوب په برخه شو . پاتی شول هغه خلك چی ایمان نه راوړی نوهغوته ووایه چی تاسی په خپله کړنلاره فعالیت کوونکی اوسی او موږ به یی په خپله کړنلاره کوو.د چارو پای ته تاسی هم سترګی په لاره اوسی اوموږهم سترګی په لاره یو .

(هــــود- ١٢٠ - ١٢٢)

استاد «ربانی» احمدشاه "مسعود" ،استادخلیلی ،ملامحمدعمر ، ظاهرشاه اوجنرال دوستم واشنګټن ته بلل شوی دی

په نورو بلل شویوکی حضرت مجددی ، مولوی خالص ، مولوی "محمدی" پیرگیلانی حاجی قدیر او میرمن دوپری شامل دی

غونډه دجون په ٢٥ مه شروع کیږی اودری ورځی به روانه وی

دسفر ټول لګښت دبلل شویو کسانو په خپله غاړه دی

واشنګټن - دجوزا ٢٣ مه : دامریکا دمتحده ایالتونو دمشرانو دجرګي دغړي هیګ براون له خوا دکابل ددولت رئیس استاد « رباني » ،دنظار شوري رئیس احمد شاه مسعود ، دحزب وحدت اسلامي مشر استاد عبدالکریم خلیلي، دطالبانو دغورځنګ مشر ملامحمدعمر «مجاهد» ، پخواني پاچا محمدظاهرشاه اودجنبش ملي مشر جنرال عبدالرشیددوستم ته بلنه ورکړه شوي چي

(٤)مخ

دطالبانو هیئت نیویارك ته ورسید

دهیئت غړي ملاعباس اوستانیزي دي

نیویارك - دجوزا ٢٢ مه : له نیویارك څخه یومسئول کس پرون شهادت ته وویل چي دطالبانو یولوړرتبه هئات له امریکائي مسئولینو سره دخبرو لپاره نیوارك ته ورسید . تومورې منبع زیاته کړه چي دطالبانو دهیئات په ترکیب کي ملاعباس او

(٤)مخ

استاد ربانی خواستار مقابله همگانی بادسایس دشمنان اسلام وجهاد شد

کابل - ٢٢ جوزا : استاد برهان الدین «رباني » حین سخنراني درجم غفیري ازمردم اهل تشیع کابل باتذکر مطلب فوق، اظهارداشت که بااقدام ومساعي مشترك جناح هاي جهادي وقرارگرفتن دریك سنگروصف واحد، مي توان، اختلافــات خویش را رفع نموده درمقابل دسایس وتوطئه هاي بیگانگان ایستاده گي نمود.

ص(٤)

قاضي حسین احمد افغانستان ته ترتلودمخه وویل :

دحزب اوجمعیت ترون به یوبنسټ شی ، باید طالبان وربانډی خوشحاله شی

طالبان دجګړی دادامی هیڅ جواز نلری

مولانا فضل الرحمن هم دطالبانو له تعهد ماتولو شکایت وکړ

واشنګټن ته دسولی لپاره تګ له مجاهدینو سره نه ښایی

پیښور - دجوزا ٢٢ مه : دجماعت اسلامي پاکستان امیرقاضي حسین احمد پرون دسهار په لسوبجولـه پیښورنه جلال آباد تـه ترراسیدو دمخه وویل چي دي یوځل بیا په افغانستان کي دمجاهدینوترمنځ دسولي دعملیي دتینګښت اوګرندیتوب لپاره افغانستان ته روان دي اوهیله کوي چي دپخوا په څیرئي ماموریت بریالي شي .

قاضي حسین احمد زیاته کړه چي « دحزب اوجمعیت ترون به په افغانستان کي دسولي اوتفاهم لپاره یوبنسټ شي اوباید طالبان وربانډي خوشحاله شي .» ده زیاته کړه چي طالبان دجګړي دادامي لپاره هیڅ جوازنلري اوشرعاً مکلفیت لري چي دسولي اوخبروانرو له

(٤)مخ

عملیات سرکوبگرانه نظامیان چین بر مسلمانان سنکیانگ به شدت ادامه دارد

هزاران مسلمان بیگناه بازداشت وزنداني شده اند

بیجنگ - ٢٢ جوزا : مقامات حکومتي چین ازناآرامي ها و اوج گیري مبارزات آزادیخواهي استقلال طلبان مسلمان درایالت «سینکیانگ » آن کشور اظهارنگراني نموده اند .

رادیو آزادي گزارش مي دهد که این منطقه که باافغانستان ، پاکستان وسه جمهوري آسیاي میانه همسرحدمي باشد، دراین اواخر صحنه زدوخورد هاي شدید میان مسلمانان وپولیس چین بوده است

مقامات چینایي ازطریق تلویزیون منطقوي بیجنگ ازاوضاع نابسامان ایالت سنکیانگ بخصوص « اورمچي» وو فرقان» اظهار نگراني کرده وخواستارشدید اقدامات سرکوبگرانه نیروهاي دولتي علیه مسلمانان آزادیخواه دربوهنتون ها ومکاتب شدند .

حکومت بیجنگ اعلان داشته که ازهرگونه تماس هاي بیگانگان دربوهنتون ها ومکاتب وهمچنان ارتباط محصلان

ص(٤)

بیت اللحم (فلسطینيٌ باانداختن تنه درختي بر مسیرکاروان هاي نظامي اسرائیل خشم ونفرت خود را نسبت به احداث این جاده که به مناطق یهودي نشین درمدخل بیٓت اللحم منتهي مي شود ، ابراز میدارند .

درگیری میان نیروهای دولتی وطالبان از سرگرفته شد

طی (٢٤) ساعت گذشته چندین سنگر مستحکم گروه طالبان تخریب گردید

کابل - ٢٢ جوزا : تبادل آتش میان نیروهـاي دولتي وطالبان بعدازیك وقفه چند روزه باردیگر ازسرگرفته شد .

قرارراپور رسیده ازکابل این درگیري پس ازیك وقفه ده روزه باردیگر تبادل آتش سلاح ثقیل وخفیف، درساحات

ص(٤)

هیئت افغانی با رئیس جمهور ایران ملاقات کرد

تهران - ٢٢ جوزا : سیدمحمدعلي جاوید معاون صدارت باهاشمي رفسنجاني رئیس جمهور ایران دیدار وپیام کتبي استاد رباني رابه وي تسلیم نمود .

قرارگزارش « خبرگزاري جمهوري اسلامي » که به منظور شرکت دریك کمیسیون مشترك اقتصادي ازافغانستان و ایران دراس یك هیئت اقتصادي به تهران سفرکرده است روزگذشته بارئیس جمهور ایران ملاقات نمود و پیام استاد رباني رئیس دولت را به وي تقدیم کرد .

سیدمحمدعلي جاوید درین دیدار ضمن امتنان ازکمك هاي انسان دوستانه ایران به افغانستان خواستار ادامه این کمك هاشد .

ص(٤)

جنرال اسلم بیگ درمصاحبه با اژانس خبری (کی - پی - ای) :

امریکا طالبان راحایل میان ایران وافغانستان قرارداده است

پس از آنکه امریکا درحصول اهدافش موفق شد،با طالبان قطع علایق کرد

راولپندي - ٢١ جوزا : جنرال اسلم بیگ فرمانده متقاعد قواي زمیني پاکستان گفته است که یگانه مانع بزرگ درجهت برقراري صلح وامنیت درافغانستان امریکامیباشد که نمونه هاي فراوان آن موجود میباشد.

طبق گزارش مطبوعات پاکستان در مصاحبه اي که جنرال اسلم بیگ باخبرنگار آژانس خبري (کي پي آي) انجام داده گفته است که امریکا زمانیکه به اهدافه خود رسید باطالبان قطع علاقه کرده و امروز صرف پاکستان ازگروه طالبان حمایت میکند .

درادامه گزارش آمده است که امریکا طبق پالیسي همیشگي اش بخاطر تحقق اهدافش پاکستان راجلو انداخته وخود درعقب قرارگرفته اما اکنون درطرفداري

ص(٤)

سیداسحق گیلاني له شهادت سره په مرکه کي :

اوسنی رکود خطرناك دی ، باید په وضع کي یوسیاسي بدلون راوستل شي

دافغانستان دویش هڅه یوخیانت اوجنایت دي دبري امکان یي نشته

پیښور - دجوزا٢٢ مه : دافغانستان د ملي تفاهــم اوبووالي مشرسیداسحق ګیلاني تیــره شپه له شهادت سره په یوه تلیفوني مرکه کي وویل چي زموږ په هیواد کي روان بدمرغه رکود خورا خطرناك دي اوباید په وضع کي یوسیاسي بدلـون راوستل شي .

ده زیاته کړه ، متأسفانه تراوسه هیڅ نه دي شوي پوهاوي دحزب اوجمعیت ترمنځ ترون وشو، زموږ هیله وه چي کندهارته پــه څنګونمشرانو علاوه نور

(٤)مخ

شرایط کنونی افغانستان سیاست جنگ رانفی می کند

افغانها نباید فرصت مساعد کنونی برای استقرار صلح راازدست بدهند

تهران - ٢٢ جوزا : گروه هاي داخلي ذیدخل در قضیه افغانستان نقش اساسي درحل بحران کشور داشته ودرجهت همکاري و همنوایي باهم میتوانند به اساني وسادګي بحران جاري کشور را حل کنند .

آنچه اسید مردم و اکثر گروه هاي

ص(٤)

بعد ازقیام هرات تره کی وامین ازمسکو مصرانه خواست که قوای خود رابه افغانستان اعزام دارد

بعوض اعزام عسکر به افغانستان باید به تره کی وامین بگوییم که تاکتیك هاي خویش را عوض کنند . (کوسیگین)

من نظر رفیق اندروپوف را که از اعزام عسکر به افغانستان صرفنظر نماییم ، کاملاً تأئید میکنیم . (گرومیکو)

فکر نمی کنم که انقلاب را در افغانستان به کمك برچه، خویش نگهداریم . (اندروپوف)

ببرك کارمل وپرچمی های دیگر درمسکو روسها را به اشغال افغانستان تشویق می کردند .

تانکها ووسایط زرهدار نمی تواند کمونستهای افغانستان را نجات دهد . (لیننکو)

ص(٣)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان

صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان

مؤسس: انجنیرحکمتیار

ناشر: ریاست ارشادوفرهنگ

سرمحرر: محمد نذیر «بشارت»

تحت نظر هیئت تحریر

تیلیفون: ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستی: ۱۰۳۶ یونیورستی تاون - پشاور

دادومره تیښته ولې؟

له کومې ورځې چې دخلقیانو، پرچمیانو اودروسانو دوحشت اوبربریت په وجه زموږ دوطنوالو دهجرت سیل دپاکستان په خوارامات شو، تر دېرې خاصې نظریې او سلیقې درلودونکوته غرب ته تګ ترټولو غوره اومرغوبه موضوع وه. ان تردې چې یووخت داخبره مشهوره شوې وه چې «کله به نړیواله سطحه له افغانستان نه دروسي لښکرو دوتلو خبر راپورته شي اوویل شي چې داقضیه دې دسولې له لارې زرحل شي نوهغه کسان چې غرب ته دتګ دانتظار په کتارکې ولاړدي ختمونه کوي، اوواني چې خدایه ترهغې داجنجال مه حل کوې، چې موږدغرب په لوري پروازوکړو.»

ځینې جاهلي چې په غرب کې دي او ډېر وخت تللي دي، داسې استدلال کوي چې دوی ځکه په جهاد کې برخه وانه خیستلای شوه، اوله خپلو هیوادوالو سره یې ځای پاتې نشول چې اصلي مشکلات ئې درلودل او دفعالیت زمینه ورته مساعده نــــه وه. واقعیت دادې چې دوې ډېره بې انصافي کوي، ددې دلیل دادې چې دوی دکومو مشخصاتو، ځانګړتیاوو اومعیارونوله مخې ځانته حالات په پاکستان کې له جهاد اوولس سره دیږدې پاتې کیدو لپاره نامناسب ښيي خو ځینې کسان ترډېرې نـه دهماغو مشخصاتو، معیارونو اوخصوصیاتو زیات درلودونکي وو مګر تر ډېره وخته په پاکستان کې پاتې شول. لوړې پروړي ئې په مخ بوتلې، علمي موضعګیري ئې درلودله اووجود او حضورئې احساسیده.

په هرحال دایوه ضمني موضوع وه، دلته زموږ اصلي خبره بله ده او داموضوع ددې لپاره یاده کړه چې دجهاد په وختوکې غرب ته تلل دیوې مشخصې نظریې او سلیقې دخاوندانو دپرځای رغښت و، خومجاهدینو او داسلامي جهادي طرزفکر، ذهنیت او کرکتر درلودونکوته دنهولس مادي امتیازاتو اودتلو داسانتیاوو باوجود هم غرب تـــه وتــــل دولچسپی ورنـه و.

مګرمتاسفانه اوس ګورو چې په دې وروستیو وختونو کې داسلامي، جهادي نظریاتو، دخاوندانو اومجاهدو شخصیتونو درلودونکو په منځ کې دتلو دلاروچارو دپولو ستونزو اوتشکیلاتو سره سره غرب ته دتګ میلان ډېر غالب شوی، څوک چې دتلولار موندلای شي، هڅه کوي چې ځان وباسي ددې بواساسي علت دادې چې متأسفانه زموږ په منځ کې ځینې جاذبې له منځه ولاړې، ځینې انګیزې یخې شوې، ځینې شعارونه ترشوالوتو لاندې راغلل او له ځینو پاکو هیلو اوعقلسر ارمانونو سره ډېره بې رحمانه جفاوشوه. ډېرې ناوړه بې عدالتۍ وشوې، دډېرولو بې تفاوتیو او بې حسیو مظاهري وشوې، ډېر خطرناك انحرافونه وشول، دنظریې او انقلاب له ارزښتونو ګټو اوپیغامونو سره په ډېره بې دردۍ اوبې کفایتۍ برخورد و شو. دانقلاب ډېرې چارې داسې لاسونوته ورغلې، داسې چاته وسپارلې شوې اوودداسې کردارونو دانقلاب اومجاهد په سرنوشت باندې قبضه وکړه چې هغوی په هیڅ توګه ددې اهل نه وو، نه ئې اسلامي انقلاب په نظریه عقیده وه، نه ئې پرې علم واونه ئې په مزاج اومشخصاتو پوهیدل. دملت اومجاهدنسل نظریاتي تربیې، رشد اوذهني ارتقاته بېه توجه ونشوه. سیاست داسلام دنظرئې له ګرفت نه په وتوشو، پراخې شي وربانډې تشریفاتي اولفظي حاکمیت پاتې شو. دا ټول ددې سبب شول چې په چاروکې داسلام دنظرئې دروح اواصولو داکمیندو په ځای، پردول ارباب ګرونه، تجارت ډوله اوله یوه انقلابي دینامیزم نه خالي روابط مسلط شي. داهغه حالت وچې ډېر زیات احساسات ئې وځپل، ډېرې ارزوګانې ئې مړژواندي کړې، ډېرې جاذبې ئې ختمې کړې او ډېرو انګیزو اوارادو لپاره داسې شو لکه دونوړ پاڼولپاره دخزان سیلی.

زموږ هیله داده چې زموږ اسلامي قیادتونه اوحلقې به دې موضوع ته جدي پاملرنه وکړي، چې په یوه مجاهدانه تلاش او زیارسره داحالت ختم کړي، داسلام نظریاتي قوت راپورته کړي.

دخلکو پوښتنوته ځواب ورکړي، جاذبې راژوندي کړي، انګیزې ورکړي، امیداواطمینان ورکړي، البته داپه تشو خبرو او وچو موعظونه کیږي، بلکې یوسترجهادي عمل غواړي، یوه قرباني غواړي اویوه داسې درانده کارته اړتیالري، چې په بشپړه توګه یوه «ناوده جهاد» اویوې ګرمې معرکې ته ورته دي.

که داوشي، ټولې مایوسۍ به زموږ دملت اوجهادي نسل له ذهنونو کوچ کړي، ټولې پریشانۍ، وسوسې، اونظریاتي، روحي انتشارونه به له منځه ځي، اوځای به ئې امید، تحرك اوسکون نیسي. دلته یوځل بیا «جهاد» شي، عظیم کردارونه اوسترې حماسې راغلې بوجهاد ګرنسل ګرځي او ترټولو مهمه داچې یومؤمن، په اسلام مین صابراومجاهد قوم پروت دي.

دشرق نابغه علامه اقبال رحمة الله علیه وائي «نهی، هی ناامیداقبال اپنی کشت ویران سی،
ذرانم هو تویهی متی بړا زرخیزهی ساقی»

ژباړه: «نه دې ناامیده اقبال له خپلې شاړې کروندې نه که لږنم ئې نوداخاوره ډېره زرخیزه ده ساقي».

انگیزه و دستاورد اجلاس قندهار

حامد

پیوسته به گذشته

تنها جمله، زیبا، ارزشمند و واقعگرایانه، قطعنامه اینست که از استاد ربانی «جداً خواهش» بعمل آمده است تا به خدا جل جلاله توجه و رجوع کند. احسنت! قطعنامه باید از همه، افغانان و همه مجاهدین و علی الخصوص باید از همه، رهبران بشمول امضاء کنندگان و بالاخص شخص «امیر المؤمنین» میخواست تا به خدا جل علی شأنه، توجه و رجوع کنند. اگر این بزرگان واقعاً به خدا سبحانه و تعالی توجه و رجوع میکردند، حالت تماشاچی را اختیارنکرده بلکه از همان آغاز غائله و معضله در روز ششم ثور سال ۱۳۷۱ در صف حق قرار گرفته و علیه جناح متعدی و متخلف وارد اقدام میشدند. کدام وجدان سالم میتواند این بزرگان را از فاجعه، کنونی بری، الذمه خوانده و مسؤلیت را بصورت کامل متوجه گروههای متحارب گرداند؟

آیا امضاء کنندگان قطعنامه خودٔ به خدای غفور و تواب توجه و رجوع کرده اند؟

آنان ادعاء دارند که سران حزب و جمعیت بر سر تقسیم مناصب حکومتی با هم به توافق رسیده اند. گیریم که این ادعاء را بپذیریم، متوجه میشویم که سران حزب و جمعیت اقلاً یك كار مثبت انجام داده اند، ولو در محدوده، مربوط به خود شان؛ و آن اینکه بر سر تقسیم مناصب حکومتی به توافق رسیده اند. ولی بین سران اجلاس قندهار همین مقدار تفاهم و توافق نیز پدید نیامد. یکی میخواست که ریاست حکومت متوازی را علی الرغم کبر سن و ضعف شدید جسمانی بعهده گیرد. دیگری مدعی بود که احق الموجودین برای احراز منصب «امارت مؤمنین» خودش است. دیگری خیال صدارت عظمی در سر میپروراند، و آن دیگری از همه میخواست که بعنوان «ولی امر مؤمنین» دستش را ببوسند. باز آفرین بر آقای خامنه ای که صرفاً «ولی امر مسلمین» خوانده میشود و اعتراض نمیکنند!

برمیگردیم به قطعنامه، اجلاس اشرف البلاد و میتوان گفت که این قطعنامه بر همگان و قبل از همه بر خود طالبان سطوح پایین آشکار گردانید که آن وقتها را گاو خورده است که اینان یکه تاز عرصه، سیاست و محاربه بودند. اجلاس قندهار بیشتر از آنکه نقطه، پایان یك دوره، افسانوی و رؤیایی برای طالبان باشد، نقطه، آغازین دوره ای از تبارز واقعیتهای تلخ و ناگوار برای طالبان و حامیانشان خواهد بود.

طالبان قبلا نیز معاهداتی امضاء کرده و فردا آنرا انکار کرده بودند. در گذشته هر گاه از نطاق طالبان پرسیده میشد که مثلا با جنرال دوستم ملاقات، یا با حزب اسلامی معاهده ای داشته اند، طالب کرام بدون اینکه زحمت بردن اسم آنها را بخود بدهد صرفاً میگفت: «اصلاً ما اعتقاد و نیازی به مذاکره و معاهده نداریم». ولی این بار نطاق طالبان با آب و تاب فراوان و با احترام بیکران از رهبران یاد کرده و میگفت آنان به دعوتشان لبیك گفته اند. ظهور آثار تزلزل و شکست در وصف «فولادین» طالبان فی نفسه و بصورت مجرد کدام پدیده، خوشایند نیست که باید آنرا تبلیغ کرد. جنبه، مثبت و ایجابی مسئله درین نکته نهفته است که پس از جنگ سالاران دیگر، طالبان نیز، اقلاً در سطح اعلامیه، تلویحاً موضع انعطاف پذیری اتخاذ کرده اند.

در صحنه، سیاسی- نظامی کنونی افغانستان، طالبان تنها گروهی است که علناً خواستار ادامه، جنگ است. لذا، مشاهده و بروز هر نوع انعطاف در موضع جنگجویانه، آنرا باید بفال نیك گرفت. می بپذیریم که با صرف صلحخواهی، نمیتوان صلحخواه واقعی بود. ولی ازین حقیقت نیز نمیتوان انکار کرد که شنیدن شعار صلحخواهی از جنگجو، قبل از همه دلالت برآن دارد کـــه در شرائط امروزی، صلحخواهی آن منطق مقبول و غالبی است که حتی جنگجویان نیز نمیتوانند نسبت به آن بی تفاوت باشند.

و اما، پیامی که درین قطعنامهٔ برای حزب و جمعیت نهفته است. پیام این نیست که گویا کار طالبان تمام شده و عنقریب همچون آدمك برفی در اثر حرارتِ درخشش لبه، شمشیر دولت آب شده و بزمین فرو خواهند رفت. شکست اجلاس قندهار نباید رفع کامل «خطر طالبان» تلقی گردد. همانطوریکه معمول و مرسوم بوده اکـثر نشستهای اولیه، دشمنانِ دیروزی با صدور قطعنامه های دارای عبارات کلیشـه ای بپایان میرسد و طوریکه دیده شده، اکثر چنین قطعنامه های دارای عبارات کلیشه ای، تهدابی شده است برای ایجادزمینه های تفاهم و تعاون!

حزب و جمعیت نمیتوانند شکست اجلاس قندهار را «پایان افسانه، طالبان» تلقی کنند. اگر اینگونه باشد قطعاً بخطا، رفته ایم. اصول برخورد واقعگرایانه با واقعیتهای موجود حکم میکند که شکست اجلاس قندهار را باید بعنوان یك شانس طلایی برای برنامه ریزیهای دقیق خود مورد استفاده قرار دهیم. شکست اجلاس قندهار صرفاً ساحه را برای قلمفرسایی ما هموار نگردانیده است، بلکه باعث شده است تا زمینه های مناسبی جهت کار و بهره برداری در اختیار ما قرار گیرد. آنچه اجلاس قندهار را باشکست مواجهٔ گردانید «تحلیل، تهلیل و چشم بندیهای ما نه، بلکه واقعیتهای غیر قابل انکار موجود ملموس و مشهود در صحنه است که اجلاس قندهار را با شکست و گرداننددگان و مبتکرین آنرا علی العجاله با ناکامی مواجه گردانیده است. مسؤلین حزب و جمعیت نباید فراموش کنند که انگیزه‌ها و دستهایی که اجلاس قندهار را شکل بخشیدند، از بین نرفته بلکه هنوز هم موجود اند. ممکن است این انگیزه ها توسط همان دستها فردا در جایی دیگر و با هیئتی دگرگون تجلی و تبلور یابند. کما اینکه ما هم فرصت داریم تا با استفاده از زمینه های حاصله از شکست اجلاس قندهار، کار کنیم، کار کنیم و بازهم کار کنیم. نباید وقت را در چنه زدنها، امتیاز طلبیها و ورزش کاری چوکیها و فرنیچر دفاتر قصرسا ضایع کنیم؛ بلکه باید به طالبان و حامیانشان و قبل از همه به مردم مظلوم افغانستان ثابت سازیم که ما توانایی و قبل از آن، اراده و بالاتر از آن التزام داریم که در راه نجات ملت رنجکشیده، مسلمان افغان ازین تراژیدی و رهایی افغان زمین مصیبتزده، اسلامی از بحران حاکم، صادقانه عمل کنیم، و ما علینا الا البلاغ المبین.

> تجارب گذشته نشان داده که وجود رهبران یا جریانات سیاسی در حالت به اصطلاح «بینابینی» و «بیطرفی» برای ملّت مسلمان وکشور اسلامی ما به مراتب زیانبارتر از حالتی تمام شده که آنان در جناح دولت یا اپوزیسیون قرار داشته اند.
>
> ملت رنجکشیده، مسلمان افغان شاهد بوده که سیاست باصطلاح و ظاهراً «بیطرفی» بعضی از رهبران محترم جهادی در حوادث پس از پنجم ماه ثور سال ۱۳۷۱، بعوض اینکه موجب ایجاد تفاهم میان گروههای متحارب و متخاصم گردیده باشد، بالعکس، یکی از عمده ترین عوامل داخلی ادامه و تشدید بحران حاکم بر کشور ما بوده است. یعنی این رهبران بعوض اینکه موقف ظاهراً «بیطرفی» خود را بستری برای تلاشهای صلحجویانه بین گروههای متحارب قرار دهند، با تأئید و تقبیح متناوب از دولت و اپوزیسیون، نه تنها باعث ادامه که عامل تشدید بحران نیز گردیده اند. اینکه این رهبران حاضرگردیدند تا حول یك محور، ولو محور جنگجویان انحصارطلب جمع گردند، ضمن اینکه از نظر روانی شاید اثراتی بر مورال نظامیان طرفین بر جا گذارند، کارشان دارای این حسن نیز هست که «شنگ» و «جهت»شان آشکار گردیده، از تعدد مصیبتبار «مراکز قدرت» و «جناح»ها کاسته خواهد شد.

> شگفت آورترین نکته، مربوط به تدویر اجلاس قندهار این بود که پس از ظهور جنبش طالبان در خزان سال ۱۳۷۳، اولین بار است که این جنبش بصورت علنی با کسانی به صحبت می نشیند که با شعار دستگیری و مجازات آنان و پیروانشان، قد علم کرده اند.
>
> تدویر اجلاس در قندهار در اصل چیزی غیر از یك اقدام عکس العملی و عقده مندانه نبود. اما، از آنجاییکه طالبان برای اولین بار بصورت معلن، بر خلاف گذشته ها، بعوض توسل به شعارهای جنگجویانه و انحصار طلبانه، راه تفاهم و مذاکره با «دیگران»را در پیش گرفته بوَند، اجلاس قندهار بعنوان «گامی به جلو و در جهت درست» تلقی گردید.

دکربلا غمیزه

دفتح اوشکست دحقیقي معیارونو په رڼاکې:

لیك صاحب زاد خورشید گیلاني:

ژباړه: «شرر»

په تیریسې:

لومړی :- دیزید داخیال چې امام حسین «رض» دکوم آني تحریك یا اضطراري جذبې له امله میدان ته راوتی دی، بالکل بې بنیاده اوبې سڼې دی. امام حسین «رض» په کامل ادراك اوبیاوو دیزید حکومت ناجایز، غیراسلامي، دخلافت راشده برعکس بلکه دخلافت ضدګڼلو. آنې تحریك چې په څومره توندی راپورته کیږي په همغومره ژرله منځه ځي. خوحضرت امام «رض» دذې الحجې له ډېهم نه دمحرم ترلسم پوری همدایوه خبره کوله چې دیزید په حکومت کې حدودالله تربښولاندې کیږي اودشریعت حلال، حرام اوحرام یې حلال ګڼل کیږي، په امام «رض» دمرګ ګوزار ناڅاپې نه ؤشوی چې د ځان دبچولو، بیرته تګ یا له یزید سره یې دتفاهم وخت ونه موند، بلکه دهغوی هرقدم په شعوري توګه دمقتل په لوري پورته کیده اودعاشوري په شپه یې خپلو، ملګروته وویل چې که دچا تګ ته زړه کیږي نوولاړ دی شی زما له خوا به پرې هیڅ ملامتیا نه وي؟ . داسې ښکاري چې که دچا دراتلونکي بوګنوونکي ورځ خبر نه، بلکه خرګند تصویر دامام «رض» مخې ته پروت ؤ ځکه خو دعاشوري په ورځ یې دیزید لښکرته په ښکاره ډول وویل: «دمرګ ترسرحده خوزه پخپله له تاسې سره جګ ته تیاریم، له هغه اخوابه تاسې زما څه وکړی؟» دامام ملګري اوخپلوان دسترګو په رپ کی نه دي وژل شوي بلکه یویو خپل مقتل ته ورتللواوهغوی مړی ټوله ورځ امام حسین «رض» ته راوړل کیدل اوهغوی بیخرل ودنیا له ټولو زرور پهلوان که دخپل ځوان ځوی اود غیږی بچی مړي وویني نوحواس به له لاسه ورکړي خودلته له «وانا لله وانا الیه راجعون» نه پرته بل هیڅ ډول احساساتي عکس العمل نه لیدل کیږي. داضطراري اوخام جذبې دپوکتې دچاودلو لپاره دیوه ملګري شهادت بس ؤ خو داهل بیت په خیمو کې دشهادتونوجشن جوړؤ. په کومه حوصله، همت، صبراواستقامت چې امام حسین «رض» دشهادت مرحلې طی کړي اوخپلی عقیدی اواصولوخولاڅه کوی چې دخپل آس دسم دګرد اودخیمې دتناب سودایی ونه کړه که ددې لسمه برخه یزید اودهغه حواریونولیدلی وای نوحسین «رض» خوخپله خیمه پریښوده، هغوی به داقتدارڅوکی په تیښته پریښودې وای. لوږه، تنده، دملګرواوخپلوانو وسې اوبې کسی څه معمولي خبره نه وه چې آنی جوش یې سوړ کړی نه وای، خوامام «رض» ددنیـا پرمخ ددې دایمـي حقیقت نقش پریښود چې داضروري نه ده هرسړی دې داخـــتلواوخرڅولو وړاوهراصل دې له تفاهم سره بلدوی، جابر اومتکبرخلك کولای شي چې دفکر اواصل خاوند دمرګ کومي ته ګوزارکړي خواصول یې دفنا کندی ته نه شي غورځولای، اصول دچا له اقتداره نه ډېرقیمتي اوډېرقوي وي. څـوك چې په دې ډول استقلال اوسرپتوب ځان قربانوي، ځرګنده ده چې دابه یې دوجدان شعوري پرېکړه وي، دکوم مؤقتي خوټکیدونتیجه به نه وي. دیزید دخیال داپل اړخ چې که امام حسین پخپل ضد ټینګ ودرید نوهغه به ډېرتاوان ووینی چې په طبیعي ډول به یې په ټوله کورنی اثرپریوځي پاتې خلك به یې بیا لاسونه مروړي، دتفاهم لاریه غوره اوزماحکومت به قانوني ومني، اوپه دې ډول به تاریخ زما دحکومت حقانیت قبول کړي، دااړخ هم همغومره نیمګړی، خام اوغلط وخوت.

له تاوان نه هغه څوك ویرېږي چې دکومې مادي ګټې په تمه کاروکړي، څوك چې اصول ددنیـا له ټول مال اودولت نه زیات غوره اومهم وګڼي، دهغه هیڅ کارد ګټې اوتاوان په تله نشي تلل کیدای - دهغه دې اصولو پاتې کیدل له ټولو ستره ګټه اودځان اومال بې قیمت دي. اوهمدادحضرت امام حسین هدف ؤ که له دې خبرې یوه ذره اخوادیخوا څه شوی وای نوحسیني شهکار به هیڅکله تلپاتی مقام ګټلی نه ؤ.

پاتې شوه دنوری کورنی دپښیمانی خبره ده، نودنبوت کورنی خودحسین په غیږ کی لوبه شوی وه، هغوی ته دخپل نیکه سبق یادؤچې دلمر اوسپوږمۍ په بدل کې یې هم دخپل الهي رسالت دپرېښودو خیـال قبول نه وکړي. شهادت دسرلوړي نوم دی درسوایی نوم نه دی چی دپښیمانی نوبت یکې راشی، دتاریخ یوه پیښــه، زمــوږ داستدلال ملاتړکوی:

کله چی دیزید دربارته امام زین العابدین وړاندې کړای شو نویزید په نرمـه ژبه دخبرو په ترڅ کې دکربلاپه پیښـه دمصنوعي خفګان نه وروسته، وویل چې که ستــا پلارخپل ضد پرېښودی وای اوزموږ خبره یې منلې وای نونن به ستاسو داحال نه ؤاونه به موسیاږ سری داسې دربه در ګرځیدلی. ددې خبرې په اوریدو امام زین العابدین له قهره تك سورشواووپی فرمایل: «تاسې تراوسه په دې پوهیدلی نه یاست چې وژل کیدل زموږ عادت اوشهادت زموږ لپاره دنیکمرغی وسیله ده.»

دامــام دی لـه عـزم او غـضـب نـه ډکوخبرودیزید اودهغه دحواریونوټول چل اوظاهری شان اوشوکت په زمکه وویشت. کوم شی چې دیزید په خیال دپښیمانی سبب کیده، هغه د اهل بیت په وړاندې دنیکمرغی سبب و. دکربلا له غمیزې نیولی ترننه پوری، امام زین العابدین خولاڅه کوی چې له آل رسول پوری تړلی یوکوچنی فرد هم دپښیمانی څرګندونه نه ده کړی بلکه دتاریخ په مختلفو مرحلو کی دیزید په ځبرحکمرانانو سره تمایل لرونکي محققین اومؤرخین دکربلادغمیزې توجیه په دې ډول کوی چې یزید په هیڅ ډول له دې ټولی پیښې جداوښیي اووایی چې په دې مســـئلـه کی دځینومنافقواوجاهلوکسانودوه مخی کرداداسی ډچې کار یې مرګ -ژوبلې ته ورساؤ، ګنې نویزید ورته خوښه نه وه ... ددې ښکاره مطلب دادی چې دیزید پلویان پخپل کارپښیمانه دي اوپه څه حیله اوبهانه دخپل برائت څرګندونه کوی چې پیښه داسې نه وه هغسې وه، حقایق هغسی نه دی داسی دی. داټولی خبری ددې غمازی نه کوی چې اخلاقي معیار اوپیمانهٔ دامام حسین دفتحې غږ کوی؟

دا ځکه چې پښیمانی، وضاحت، معذرت، توجیه، تعبیر، تیښته، برائت دا ټولی یزیدته منسوب دی امام حسین رض ته کوم درواغجن مؤرخ هم نه د ی منسوب کړی. همدارنګه دغه ټول ټکی د ماتې اوشکست نښه ده، د بری نښه هیڅکله نشی کیدلی. همد ی اخلاقی فتحې چې ترڅو دنیا آباده وی، امام حسین د صبر او استقامت او یزید د زور زیاتی سمبول ګرځولی دی.

د دی د پاسه چې کله یزید په مدینة الرسول د یرغل نیت وکړنو ابن زیاد چورلټ انکار وکړ او ورته یې وویل چې ته اخرڅه غواړی؟ مخکی دی د رسول الله لمسی شهید کړ اوس مدینة الرسول د یبلو لاندی کوی! د لعنت داطوق زه اوس په خپله غاړه کی هیڅکله نه اچوم

د کربلا له غمیزی و روسته د یزید دا خبره چی «لعنت دی وی پر ابنی مرجانه (ابن زیاد) چی زه یې رسوا کړم له دی سره د تاریخ مستند کتابونه پخپلو پاڼوکی دا قوی شواهد لری چی د کربلا له غمیزی و روسته ډېرو ښځو له خپلو مړونو طلاق واخیست ځکه چی هغوی د حسین رض په وژنه کی د شریکو سړو لیدل ګناه ګڼله. د ځینوبچو د خپلو پلرونو په راتګ دروازی بندی کی چی د حسین رض په مقتل کی ملوث ناولی مخونه څنګه ووینی؟

ډېر و روسته د هغه دی بنی امیه د کورنی عمر بن عبدالعزیز(رض) دا حکم جاری کړ چی هر چا یزید ته امیر المؤمنین ووایه نو شل کوړی دی ووهل شی. آیا تر اوسه پوری یو مسلمان له امام حسین (رض) سره خپل تعلق شلولی دی؟ هیڅکله نه. سبب واضحه دی چی له ماتی خوړلو نه هر څوك د برائت اظهارکوی، له بریالیو سره حتی هغه خلك هم د نژدی والی دعوه کوی چی په حقیقت کی نژدی نه وی. له یزید نه د هر سړی د برائت اظهار او له حسین رض سره دتعلق ښودنه په دی پرېکړی د رښتینولی مهرلګوی چی په اخلاقی نړی کی د فتحې تاج د امام حسین رض په سرایښودل شوی او دیزید پرمخ ترننه پوری د شکست دوړی پرتی دی.

*دویم :- بل معیار چی په عمومی سطح منل شوی هغه دا دی چی په انسانی ژوند کی امتحان، ابتلاء، بحران او ښکته پورته خامخا راځي. او که څوك د کوم تحریك، جماعت، خاندان یا پوځ مشروی یا د کوم فکر او اصولو مخکښ وی نو دهغه په ژوند کی د سختو او مشکلاتو راتلل متوقع بلکه یقیني وی ځکه چی مخالف قوتونه هم متحرك او فعالیت کوی او دهغه لپاره د مشکلاتو د پیدا کولو یو شیبه هم نه ضائع کوی په دی کی داسی کیږی چی که دا صولو خاوند او فکری شخصیت پخپله وښویږی نو ځینی خلك دخپل ضمیر او ایمان په تقاضا هغه پریږدی چی دا نور ددی منصب او مشری لائق نه دی.

که نومړی مشر د حالاتو په ګرداب کی ګیر شو او د مقابلی لپاره یی قوت نه درلود نو دخامو او آنی ګټو غوښتونکی افراد تری جدا کیږی ځکه چی دا ډول خلك خو د ګټی لپاره له چا سره نځی، د زحمتونو او تکلیفونو لپاره نه، د داسی ذهنیت خاوندان همیشه دراختلی لمر عبادت کوی او په ډاډ منی د دی پوری نښلی.

د کربلا د غمیزی په پس منظر کی که وکتل شی نو ښکاره به شی چی څوك چیرته ولاړو؟ د دنیا له عمومی رواج سره سم، یزید ددی وړو چی هر څوك بی ملګری شوی وای او حسین رض په داسی حال کی و چی باید خپلو ملګرویی هم پرېښودلی وای.

په ٦١ هـ کال د یزید د اقتدار لمر په نصف النهار و او دحسین رض د ژوند د ماښام سرخی لګیدلی وه. یزید دادمن ساحل و اوحسین رض د ابتلاء په ګرداب کی ګیرو. یزید د ورکولو لپاره ډیر څه لرل، حسین (رض) دورکولو لپاره په خپله څه نه لرل. برعکس ملګری بی دخپلو ځانونو دورکولو په موقف کی وو. د یزید د قدرت په دسترخوان هرڅه پراته وو... څوکی، مقام، دولت، ترقی او دحسین رض په دسترخوان څو وچی ډوډۍ پرتی وی خو داوبو یو ګوټ هم نه و. په داسی حال کی باید د خلکو رجحان کوم طرف وی؟ ددی د پوهیدلو لپاره څه لوی عقل ته ضرورت نشته. حالات هم واضح و او نتائیج هم ښکاره و. خو دا ټولی خبری د مادی دنیا او د هغی د وضع کړای شوو پیمانو دی د اخلاقی دنیا ضوابط بالکل مختلف دی یوه پیښه د دلیل په توګه زمونږ مدعا واضح کوی

(٤)مخ

جوانا! ره طاعت امروزگیر

په درشل کی

قرآن کریم دبسیاواوسوکاله ژوند لاربنود

په تیروهووبرخوکی موداننسانانو دژوند له پاره دقرآنی احکامو دزده کړی اوارتیا په باب لنډی خبری وکړی راځی چی داځل هم همدغه له بشپګړودکی لاربنوونی تعقیب کړو.

دبوی ټولنی اوقوم داصلاح شرط همدادی چی انسانانو بی مثبت بدلون موندلای وی اوکه موږ خپل نفس اصلاح کړ نوهله ویلای شو چی الله تعالی موږ اصلاح کړی بو . ددی کار لپاره یواځی دقرآن کریم لوستل ، قرائت ،حفظ اوپرتفسیر پوهیدل کافی نه دی بلکی غوره خبره داده چی پرهغوی باندی سری پوه شی اوعمل پری وکړی.

دیر پوهان په دی خبره متفق دی چی که اسلامی امت اوبیلابیلی ټولنی د قرآن اواسلامی احکامو تابع شی ، هغه عملی کړی نو ریښتیا به هم هغوی تیکمرغه اوبښاغلی وی اودا هم ځرګنده خبره ده چی که قرآن په ټولنه کی حاکم شی ددنیا هیڅ ظالم اوجابر به پری حاکم نشی .له بده مرغه چی په اسلامی هیوادونواوټولنو کی تش په نامه داسلامیت خبری کیږی اوهغه له دی امله چی ځوك بی دپردی ترشا نوروعملونوته متوجه نشی اویا دچا خبره ددنیا له شرم نه ظاهراً ځان متقی اوپرهیز ګارګڼی خودپردی ترشا بیا ظالم ،جابراونورشامار وی .

داچی اوس اسلامی ټولنی په راز رازبدمرغیو اخته د ی علت بی دادی چی اسلامی اوقرآنی احکاموته بی شا کړی ده .داځکه په نه رغیدونکو ناروغیو اخته دی اوپه تیره بیا چی دچا مشران ،رهبران اوداداړو مسئولان په دغه رنځ اخته شوی وی.

موږ به وینواوګوروکله چی اسلامی،ټولنو ورووروقرآنی ارشاداتوته شاکړی ده ،عزت ،جلال اوعظمت هم تری کډه کړی ده یا پری کفری ځواکونو حملی کړی دی،غربی نظامونه بی ورته جوړکړی اویاهم دکمونیزم دبنامار په ګیډه کښی پراته وو .

که موږ قرآن وپیژنو اودهغه په زده کړه موږرونه روښانه اونورانی شی نونورانی زړونه نورانی انسانان جوړوی اونورانی انسانان نورانی ټولنی .

دقرآن کریم دنعمت شکران هم دادی چی دقرآن دلاربښوونواوغوښتنو سره سم باید قرآنی شو .

دُرنامه

* – انفعال گناه، بدرجات از غرور عبادت بهتراست .
* – هرکی بگوید که من به خدا عاشقم ولی با برادرمومن و نیکو کارش از درنفرت پیش بیاید دروغ میگوید و مکر می نماید از او دوری باید کرد .
* – کاری را که برای خدا میکنید در آن از بنده هراس مدارید.
* – شکر نعمت نعمتت افزون کند : کفر نعمت از کفت بیرون کند .
* – ازصحبت جاهل بپرهیزید تا به جهلش درنمانید .
* – مقابله با دشمن را پنهان نگهدارید!
* – همیشه به مرگ بیندیشید ومصایب دنیا را دست کم گیرید.
* – کلمه، بد مانندذره، از آتش است که خرمن زندگانی را برباد میدهد .
* – اگرمیخواهید از شرزبان محفوظ باشید ، خاموشی اختیار کنید.
* – نیکی کنید و بدیگران هم طرق نیکویی را نشان دهید .
* – به محفل اذکار بپیوندید واز شرکت به محافل بد دوری جوئید.

د ځوانان پاڼه

مشعل راه

دحضرت محمد(ص) د جلیل القدره صحابیانو د پیژندلو په لړکی

حضرت اسامه بن زید (رض)

دحضرت محمد «ص» دجلیل القدره صحابیانوله جملی څخه نن دحضرت اسامه بن زید «رض» دژوند اوستروکارنامو په باب لنډ معلومات وړاندی کوو.

دحضرت محمد «ص» داوپارلی صحابی ابومحمد اسامه بن زید «رض» نومیده چی دبنو کلب دقبیلی دبنو قضاعه له کورنی څخه ؤ ،دده پلارزید بن حارثه داسلام سترپیغمبرحضرت محمد «ص» په زوی ولی نیولی ؤ . دغلوروډلومرنیومؤمنانو له ولی څخه ؤ چی په وروکوالی کی مسلمان شوی ؤ.

دحضرت اسامه «رض» مورپی بی برکت «رض» نومیده چی په ام ایمن سره بی شهرت درلود اوهمدی مبارکی میرمنی حضرت محمد «ص» په خپله غیږ کی لوی کړی ؤ چی هغه مبارك به ورته مور ویله .حضرت اسامه «رض » په اووه کلنی کی مدینی منوری ته هجرت وکړ .که څه هم دهجرت په لومړنیو کلونوکی دده عمر ډیرکم ؤ غوښتل بی چی په غزاګانوکی برخه واخلی خوحضرت محمد «ص» ورته دګډون اجازه نه ورکوله .

حضرت اسامه بن زید پرحضرت محمد «ص» دومره ګران ؤ چی تردیارلس کلنی پوری په آزادانه توګه به دننه حرم ته تلواوراتلو اودحرم بیبیانوهم له هغه نه مبارك مخونه نه پټول اوهغوی هم هغه دخپل ځوی په حیث ګانه نوځکه بی ورڅخه پډ نه ګڼل .

دحضرت اسامه بن زید «رض » له خولی روایت شوی دی چی زه به حضرت محمد «ص» په ښی ورانه اوحضرت حسن «رض» به بی پرکیڼ ورانه کیناؤاودعا به بی کوله چی :« پردوی دواړو باندی رحم کوم ته هم پردوی دواړوباندی رحم وکړه ».

حضرت اسامه دمکی دفتحی په سفرکی له حضرت محمد «ص» سره ملګری ؤ په داسی حال کی چی حضرت عثمان «رض» ،حضرت طلحه «رض» اوحضرت بلال«رض »داوښی شاوخواته پیاده تلل خوحضرت اسامه دحضرت مجمد «ص» ترشاپراوښه سپور ؤ.

دهجرت په «۱۱» کال چی کله د۷۰۰ تنو اصحابو په ګډون دشام دسرحداتودساتنی له پاره یولښکر جوړشو ،په هغو کی دحضر ت ابوبکر صدیق ،حضرت عمر فاروق ،حضرت ابوعبیده بن الجراح ،حضرت سعد بن ابی وقاص اونورونومیالیواصحابوګډون درلود ددغه لښکر مشری داسلام سترپیغمبر حضرت محمد «ص» ،حضرت اسامه «رض» ته وسپارله ،په دی کار بوڅه تبصری پیداشوی.

کله چی حضرت محمد «ص» له دی عکس العمل نه خبرشو چی څنګه بی یواتلس کلن ځلمی دداسی ستروادمشرانو اصحابومشر ټاکلی دی په داسی حال کی چی ناروغ ؤ ، سربی په ټوټه ترلی ؤ اومسجد نبوی ته بی تشریف راوړ ویی فرمایل : « ای خلکو ، زه خبریم چی تاسی ددی لښکر دمشرتابه په باب څه ویلی .داکومه نوی خبره نه ده دده دپلارپه باب هم داسی خبری کیدلی په خدای قسم چی پلاربی هم دقیادت وړؤ اودی هم،پرمایاندی هغه ډیر ګران ؤاودی هم دی .نوتاسی له ده سره ښه سلوك وکړی دی ستاسی له غوره کسانوڅخه دی »:

صحابه وو عرض وکړ :« یارسول الله موږ ستا امر ته غاړه ایښی ده همدغه ځلمی قاید به زموږمشر وی . » درسول اکرم له رحلت نه وروسته داسلام ستروخلفاوو حضرت ابوبکر صدیق«رض »اوحضرت عمر فاروق «رض» هم حضرت اسامه بن زید ته ډیردرناوی درلود .کله چی حضرت عمرفاروق له خپل ځوی عبدالله بن عمر «رض » نه حضرت اسامه بن زید ته زیاد معاش مقررکړنوحضرت عبدالله خپل پلارعمرفاروق ته عرض وکړ چی اسامه ته دی څنګه زیات معاش مقررکړی زه په کومه غزاکی وروسته پاتی یم نوحضرت عمرفاروق «رض» ورته وفرمایل :«هغه پرحضرت محمد (ص) له تانه ډیرګران ؤاودهغه پلاروربانډی ستا له پلارنه ډیرګران ؤنوځکه می داکار کړی دی . » حضرت عبدالله بن عمر «رض » هم له دی نه وروسته دحضرت اسامه زیات احترام کاؤ .

دحضرت اسامه تقوی بی ساری ،سیرة اوصورت یی هم ښکلی ؤ،دده مبارك به هره دوشنبه اوپنجشنبه روژی نیولی ده ترسپین ږیرتوب اوکم توانی پوری داروژی ځکه نیولی چی ویل به یی حضرت محمد «ص» نیولی دی .

که فرداجوانی نیاید زپیر

اصطلاحات سیاسی

دسویس کانال

دسویس کانال چی مدیترانې بحیره اوسره بحیره سره نښلوی ددغه کانال چی (۱۶۰)کیلومتره اوږدوالی لری پرمصرباندی دعثمانی دولت دحکومت په وخت کی دیوه خصوصی شرکت له خوا چی مشری بی فردینالددولسپس کړله وکیندل شو.

